**په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو خوندیتوب:** **۷ نومبر ۲۰۱۷**

**د عبادت ځایونو، مذهبي مشرانو او عبادت کونکو په وړاندې بریدونه**

UNAMA
د بشري حقونو خدمتونه
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

## په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو ساتنه:
## د عبادت ځایونو، دیني مشرانو او عبادت کونکو په وړاندې بریدونه

په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې دغه ځانګړی راپور چې عنوان یې *د عبادت ځایونو، دیني مشرانو او عبادت کونکو په وړاندې بریدونه* دي د عبادت ځایونو ، دیني مشرانو او عبادت کونکو په وړاندې د بریدونو په هکله یو خواشینونکی زیاتوالی مستندوي ، په خاص ډول هغه بریدونه چې موخه یې د شیعه مسلمانانو په نښه کول دي. دولت ضد عناصر د نږدې ټولو بریدونو مسول دي.

د ۲۰۱۶ کال د جنوري د لومړۍ نیټې راهیسي ،[1] په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د عبادت ځایونو او هغو کسانو په وړاندې چې د عبادت خپل د مذهبي حقونه او مناسک ترسره کوي ، د هدفي وژنو ، تښتونو او د دیني علماوو او دیني مشرانو په وړاندې د ګواښلو ۵۱ پیښې مستندې کړی دي. د دغو پیښو په نتیجه کې ټولټال ۸۵۰ تلفات اوښتي ، (۲۷۳ مړینې او ۵۷۷ ټپي کیدنې) ،[2] دا د داسي پیښو په نتیجه کې د ملکي تلفاتو په برخه کې نږدې دوه برابره زیاتوالی ښیي کوم چې د ۲۰۰۹-۲۰۱۵ کلونو[3] ترمنځ ټولو اوو کلونو په موده کې ریکارډ شوي. د دیني مشرانو او جوماتونو په وړاندې د مستقیمو بریدونو سربیره ، په ۲۰۱۶ او ۲۰۱۷ کلونو کې د شخړې ښکیلو خواوو په زیاتیدونکي ډول هغه انفرادي کسان چې په جوماتونو او نورو مذهبي ځایونو کې د عبادت په حال کې وو او په چا چې د پوځې موخو ګمان کیده په نښه کړي چې په نتیجه کې یې ۲۸ کسان وژل شوي او له ۱۵ څخه زیات ټپیان شویدي.

د داسي بریدونو غیر اخلاقي وحشت د بشري ارزښت یو ډارونکی انځور وړاندي کوي. په دې نږدو کې ، د ۲۰۱۷ کال د اکتوبر په ۲۰ ، یوه ځانمرګي بریدګر په کابل ښار کې د شیعه ګانو د امام زمان د جومات د ښځینه وو عبادت کونکو د جومات د عبادت په برخه یو لاسي بم ورواچاوه او خپل ځانمرګی واسکټ یې د عبادت کونکو په دوهم قطار کې وچاوه چې په نتیجه کې یې ۶۹ عبادت کونکي ووژل شول او د ښځو او ماشومانو په ګډون یې نور ۶۰ تنه ټپیان کړل. داعش[4] د پیښې مسولیت ومانه.

د اربعین د لمانځغونډې د مخه کوم چې د دې اوني په وروستیو کې ترسره کیږي ، د عاشورا د ویر د څلویښتمې ورځې د پای ته رسیدو وروسته- یوناما د دولت ضد عناصرو څخه وغوښتل تر څو د عبادت کونکو او دیني مشرانو هدف نیول سمدستي ودروي. یوناما د افغانستان د دولت له خوا د هغو وروستیو هڅو ستاینه کوي چې موخه یې د عبادت ځایونو خوندي کول وو او همدارنګه د ټولو افغانانو د خوندیتوب لپآره څوک

---

[1] دغه راپور د ۲۰۱۶ کال د جنوري له لومړۍ نیټې د ۲۰۱۷ د نومبر د ۷ نیټې پورې موده رانغاړي.

[2] یوناما ټولټال د ۲۰۱۶ د جنوري له لومړۍ نیټې راهیسې د دغو بریدونو په پایله کې ۸۷ ښځینه ملکي تلفات (۲۴ مړینې او ۶۳ ټپي کیدنې) او د ماشومانو ۱۴۵ تلفات (۲۴ مړینې او ۱۲۱ ټپي کیدنې) مستند کړي.

[3] یوناما په ۲۰۰۹ کال کې په افغانستان کې د وسله واله شخړې په پایله کې د ملکي تلفاتو په سیستماتیک مستند کولو پیل وکړ. د ۲۰۰۹ د جنوري له لومړۍ نیټې د ۲۰۱۵ کال د ډسمبر ۳۱ نیټې پورې د خلکو او عبادت ځآیونو په وړاندې د بریدونو په پایله کې ټولټال ۴۷۵ ملکي تلفات (۱۶۴ مړینې او ۳۱۱ ټپي کیدنې) مستند کړي.

[4] داعش په لومړي ځل په ۲۰۱۴ کال کې په افغانستان کې د جلا شویو ډلو په بڼه راڅرګند شو ، چې مشري یې د طالبانو پخوانیو قوماندانانو کوله ، چا چې له داعش سره د تړاو ادعا کوله. د ۲۰۱۵ په پیل کې ، یوناما دغې ډلې ته د منسوب شویو پیښو په ثبت کولو پیل وکړ ، په تېره په ننګرهار کې.

### د عبادت ځايونو، مذهبي مشرانو او عبادت کونکو په وړاندې بريدونه

چې د مذهبي ازادي يا عقيدې څخه د برخمن کيدو خپل حقونه کاروي په خاص ډول هغه کسان څوک چې د فرقه ييز بريدونه په وړاندې اغيزمن کيدونکي دي د اضافي تدبيرونو لپاره د لازمو سرچينو د وقف کولو غوښتنه کوي.

**د عبادت ځايونو په وړاندي بريدونه**

د ۲۰۱۶ کال د جنوري د لومړی نېټې راهيسي ، د جوماتونو ، زيارتونو او د عبادت د نورو ځايونو په وړاندې د بريدونو په نتيجه کې ټول ټال ۷۵۴ ملکي تلفات را منځ ته شوې (۲۵۴ مړينې او ۵۰۰ ټپي کيدنې)،[5] د دغو بريدونو زياتره تلفات هغه شيعه عبادت کونکو[6] چې د دولت ضد عناصرو په خاص ډول د ترسره شويو ځانمرګي بريدونو په واسطه وژل شوي او ټپي شوې.

د ۲۰۱۶ کال نه وړاندې ، يوناما په ندرت سره د شيعه مسلمانانو په وړاندې عمدي بريدونه چې د دولت ضد عناصرو له خوا ترسره شوې ريکارډ کړي. د ۲۰۰۹ کال د جنوري د لومړی او د ۲۰۱۵ کال د ډسمبر د ۳۱ نيټو تر منځ ، يوناما د شيعه مسلمانانو په وړاندې پنځه پيښې مستندې کړې ، که څه هم د زياترو پيښو تر شا د مرتکيبينو هويت او انګيزه په روښانه معلومه نه ده او د مسوليت په اړه يې روښانه عامه بيانونه شتون نه لري. د ۲۰۱۶ کال نه ړومبی هغه يواځنې بريد په کوم کې چې زيات تلفات را منځ ته شول د ۲۰۱۱ کال د ډسمبر په ۶ په کابل ښار کې واقع شو: په دې ځانمرګي بريد کې د شيعه ګانو جومات په نښه شو چې په نتيجه کې يې ۵۶ کسان ووژل شول او نور ۱۹۵ تنه ټپيان شول ، د راپور سره سم د بريد مسوليت يوې شيعه ضد پاکستاي ډلې لشکر جنګهوي په غاړه واخيست ، که څه هم چې دا ادعا په خپلواکه توګه د يوناما له خوا نه ده تاييد شوې.[7]

د شيعه عبادت کونکو په وړاندی د بريدونو لړی ۲۰۱۶ کال کې را څرګنده شوه چې مسوليت يې تر ډيره داعش په غاړه اخيستی. د ۲۰۱۶ کال د جنوري د لومړی نيټې راهيسې ، يوناما په عبادت ځايونو کې د شيعه عبادت کونکو په وړاندې ۱۲ پيښې مستندې کړې چې په نتيجه کې ۶۸۹ ملکي تلتفات اوښتي (۲۳۰ مړينې او ۴۵۹ ټپي کيدنې)، [8]دې د مذهب او د عقيدې د ازادي د حق او د مذهبي لږکيو د ساتنې په وړاندې جدي انديښنې را پورته کړې. داعش د ۱۲ پيښو له جملې څخه د اتو پيښو مسوليت د اعماق خبري اژانس له لارې په غاړه اخيستی. د ۱۲ ييښو له جملې څخه څلور هغه يې په ۲۰۱۶ کال کې واقع شوې او اته هغه يې د ۲۰۱۶ کال په اولو ۱۰ مياشتو کې واقع شوې. د بيلګې په توګه ، د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر په ۱۱ ، يو ځانمرګی بريد ګر چې په کلاشنيکوف او لاسي بمونو سمبال و د عاشورا پر مهال په کابل ښار کې د کارته سخي زيارت او جومات ته دننه شو. ځانمرګې لاسي بم وغورځاوه او په جومات کې دننه يې په ښځو ، ماشومانو او نارينه وو ډزې وکړي چې په نتيجه کې يې ۱۹ تنه ووژل او مخکې له دې چې د پوليسو له خوا ووژل شي نور ۶۰ تنه ټپيان کړل. داعش د پيښې مسوليت په غاړه واخيست.

يوناما همدارنګه په ۲۰۱۷ کال کې يوه بله اضافي فرقه ييزه پيښه چې موخه يې د شيعه مسلمانانو پرته د بل چا په نښه کول و ، مستنده کړې- دا پيښه په ننګرهار ولايت کې هغه وخت واقع شوې چې کله طالبانو د داعش تر کنترول لاندې سيمه کې پر جومات ډزې وکړي چې له امله يې دري ملکي وکړي ووژل شول ، په ددې تور چې دوي په وهابي مذهبي ډلې پورې تړلې وو. پاتې بريدونو چې عبادت ځايونه يې په نښه کړې وو

---

[5] په دې هغه بريدونه شامل دي چې پر عبادت ځايونو او اجتماع پر وړاندې ترسره شوي او د بريد کونکو لخوا په نښه شوي کسان نظامي هدف ګڼل شوی چې د بريد په وخت عبادت ځايونو کې دي ،

[6] په افغانستان کې د شيعه مسلمانانو اکثريت هزاره توکمه دي چې دا د افغانستان د سني مذهب وګړو په اکثريت کې لږکي دي.

[7] افغان طلوع تلويزيون شبکې د دغه مسووليت راپور ورکړ.

[8] د اهل تشيع په وړاندې ټول بريدونه په عبادت ځايونو کې ندي ترسره شوي او ټول شيعه مسلمانان يې هم هدف ندي ګرځولي. په بريدونو کې يواځې هغه کسانو ته تلفات اوښتي چې دوي خپل مذهبي مناسک ترسره کول. په دې کې د خراسان اسلامي دولت لخوا هغه ادعا شوې فرقه ييزې ځانمرګي بريدونه شامل ندي چې په کابل کې يې ۲۰۱۶ کال کې د جولای په ۲۳ مه د هزاره ګانو په سياسې مظاهرو بريد وکړ او په نتيجه کې ۴۹۸ ملکی تلفات رامنځ ته شول ( ۸۵ مړه او ۴۱۳ ټپيان)

## د عبادت ځايونو، مذهبي مشرانو او عبادت کونکو په وړاندې بريدونه

فرقه يې بنسټ يې نه د رلود. يوناما د داعش د مسوليت منلو د ادعاوو د اعتبار په اړه ګډوله نظرېږ لري په تيره بيا په کابل کې د بريدونو په اړه. ځينې شننې په ډاګه کوي چې داعش له جنايي شبکو او ډلو چې په پراخ ډول له ياغي فعالينو سره تړلي ، ملاتړ تر لاسه کوي کوم چې هغوی د دې جوګه کوي چې په کابل ښار[9] کې په پراخه کچه بريدونه تر سره کړي. د دې سربيره د دغو ملاحظاتو په تړاو عمده ستونزه په خپل ځای پاته ده او تمه کيږي که چيري کوم اقدام تر سره نه شي نو د شيعه مذهبه لړکيو او د هغوی د عبادت ځايونو په وړاندې بريدونه ښايي دوام ومومي يا زيات شي.

### د ديني مشرانو او عالمانو هدفي وژنې، تېښتونې او ګواښنې

په ۲۰۱۶ او ۲۰۱۷ کې يوناما د ديني اشخاصو وژنو ، تېښتونو ، ګواښونو او تهديدونو د دوامدارې لړۍ مستندول په تيره بيا د دولت ضد عناصرو له خوا جاري ساتلي. د ۲۰۱۶ کال د جنوري له لومړۍ نيټې راهيسې ، يوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د ديني اشخاصو د هدفي وژنو ۲۷ پيښې مستندې کړې چې ۵۱ ملکي تلفاتو (۲۸ مړينو او ۲۳ ټپي کيدنو) لامل شوي ، چې زياتره يې په ۲۰۱۷ کال کې پيښې شوې او ډېر يې طالبانو ته منسوبې شوې.

د ديني مشرانو په نښه کول د هغوی د دې وړتيا چې عامه نظر د خپلو پيغامونو له لارې بدلوي ، يا د دولت سره د هغوی له ملاتړه سرچينه اخلي. د مثال په توګه ، په ۲۰۱۴ کې طالبانو ديني مشرانو لپاره خبرتياوې خپرې کړې چې د دولت پلوه ځواکونو د جنازې د مراسمو د ترسره کولو څخه ډډه وکړي.

د ۲۰۱۶ راهيسې يوناما د دولت ضد عناصرو د ديني هغو عالمانو چا چې په ښکاره په سيمه کې د دولت له خوا د ترسره شويو چارو مشروعيت ننګولی و او د پوځي عملياتو او تاوتريخوالي په اړه يې اندېښنې مطرح کړې وې ، د وژنې يو شمير پيښې مستندې کړې. د مثال په توګه ، طالبانو په کندهار کې د دوو ديني عالمانو د وژنې مسوليت ومانه او د هغوی وژنه يې دولت ته د جاسوسي په توګه توجيه کړه.[10] په يوه قضيه کې طالبانو ديني عالم -څوک چې د دولت ملکي کارمند هم و- په دې تورن کړ چې هڅه يې کوله اسلامي اصول د دولت په ګټه تعبير او تفسير کړي. دولت پلوه ځواکونو هم په دوو پيښو کې د جوماتونو امامان د دولت ضد عناصرو د ملاتړو په تور په نښه کړي.

يوناما د دولت ضد عناصرو لخوا د مذهبي مشرانو او علماؤو د اختطاف په اړه انديښمنه ده ، په ځانګړې ډول د طالبانو لخوا چې د اخطار يا ډارونې د تاکتيک په ډول يې کاروي چې خپل ملاتړ ته يې اړ کړي. د ۲۰۱۶ کال د جنورۍ د لومړۍ نېټې راهيسې يوناما د اته مذهبي مشرانو او علماو تېښتول ثبت کړي چې له دې جملې دوه تنه يې وروسته وژل شوي او دوه نور يې ټپيان شوي دي. د بېلګې په ډول ، طالبانو په ننګرهار ولايت کې يو عالم اختطاف کړ او هغه يې له دې امله شکنجه کړ چې زامن يې په افغان ملي امنيتي ځواکونو کې دنده درلوده چې وروسته هغه د پيسو د ورکړې په مقابل کې ازاد شو. د بدخشان په ولايت کې د طالبانو ضد تبليغ له امله طالبانو يو مذهبي مشر اختطاف کړ. هغه شکنجه شوی و او د شکنجې له امله ومړ. يوناما داسې څو پيښې هم ثبتې کړې چې دولت پلوه ځواکونو د دولت ضد عناصرو سره د مرستې په ګومان مذهبي مشران ځورولي او تهديد کړي دي.

---

[9] وګورئ: https://www.afghanistan-analysts.org/a-black-week-in-kabul-2-who-are-the-most-likely-perpetrators/

[10] د مثال په ډول دغه دوه انټرنيټي پاڼې وګورئ http://alemarah-english.com/?p=1436 ., او http://alemarah-dari.com/?p=54546, په وروستي ځل د ۲۰۱۷ د اکتوبر پر ۲۶ د لاس رسي وړ وې.

## د عبادت ځايونو، مذهبي مشرانو او عبادت کونکو په وړاندې بريدونه

يوناما بيا د دې يادونه کوي چې د بشري حقونو نړيوال قانون او نړيوال بشر دوستانه قانون د مذهب او د عقيدې د ازادۍ ملاتړ کوي ، د عبادت ځايونو او مذهبي مشرانو په شمول په قصدي ډول د ملکي خلکو او ملکي شتمنيو په وړاندې بريدونه په څرګنده منع کړي.[11] عبادت ځايونه چې د خلکو کلتوري او روحاني ميراث جوړوي د دواړو قانوني سندونو له مخې د يادو ځايونو او اشخاصو په وړاندې بريدونه ترسره کول منع دي.[12] د نړيوال بشردوستانه قانون د وضاحت له مخې هغه کسان چې په جګړه کې مستقيمه برخه نه اخلي ، د هغوې مذهبي شعايرو ترسره کولو ته دې احترام وشي او له تبعيضي چلند دې ځخه ډډه وشي.[13]

**په عبادت ځايونو کې د هغه کسانو په نښه کول چې نظامي اهداف تصور کيږي**

پر هغو ځانمرګو بريدونو سر بيره په کومو کې چې عبادت کونکي په نښه کيږي ، يوناما د ۲۰۱۶ کال د جنورۍ د لومړۍ نېټې راهيسې ۲۵ بريدونه ثبت کړي چې په کې په نښه شوي اهداف نظامي کسان تصور شوي ، خو هغه مهال په نښه شوي چې په عبادت ځايونو کې وو او اکثره دغه ډول پېښې دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي دي. د دې بريدونو په پايله کې ۲۸ ملکي کسان وژل شوي او ۱۵ نور ټپيان شوي دي. يوناما په ۲۰۱۶ کې ۱۰ پېښې او په ۲۰۱۷ کې کال کې ۱۷ داسې پېښې ثبتې کړي ، په جوماتونو کې د ننه د هغو دوو هدفي وژنو په ګډون چې طالبانو يې مسووليت منلی.

په عبادت ځايونو کې د دولت ضد عناصرو لخوا په نښه شوي زياتره هغه ملکي خلک دي چې د دولت سره د ملاتړ په تور هدف ګرځېدلي چې په دې کې قومي مشران ، عدليی او قضايي چارواکي ، دولتي ملکي مامورين او ښوونکي شامل دي چې په د جوماتونو په داخل کې وو. په ډېرو لږو پېښو کې د وسله وال پوځ غړي په نښه شوي دي. په يو شمير پېښو کې دولت ضد عناصرو تر وژنې مخکې شخص تښتولي يا يې هغه د چاوديدونکو توکو په مټ په نښه کړی ، چې د دغه ډول بريد په پايله کې هغه ملکي عبادت کونکي هم زيانمن شوي ، څوک چې د بريد اصلي هدف نه وو. يوناما دغه راز د جګړې د ښکيلو لورو له لخوا چې جوماتونه د نظامي اهدافو لپاره کاروي ، مستند ، چې په دې کې د غونډېو جوړول ، د جنګيالو راغونډېدل او د وسلو زيرمه کول شامل دي ، کوم چې د عبادت ځايونو د خوندي ځای په حيث موقف ته د احترام نه کولو ښکارندوي کوي.

يوناما په ۲۰۱۶ او ۲۰۱۷ کال کې څلور پېښې مستند کړي چې دولت پلوه ځواکونو په جوماتونو کې د دولت ضد عناصر په نښه کړي. په دې پېښو کې د تلاشۍ او هوايي بريدونه شامل وو او په دې شک چې ګوندې د دولت ضد عناصر جوماتونه د نظامي اهدافو لپاره کاروي ، چې ممکن له همدې امله عبادت ځايونو خپل خوندي حيثيت له لاسه ورکړی وي.

**سپارښتنې**

دولت ضد عناصر دې په سملاسي ډول د عبادت ځايونو ، مذهبي مشرانو ، عبادت کونکو په وړاندې بريدونه او د عبادت ځايونه د نظامي اهدافو لپاره کارول ودروي.

---

[11] د ۱۹۴۸ کال د اګست ۱۲ ، د ژنيوا کنوينسيون دويم الحاقي پروتوکول ۱۹۷۷ د جون ۸ مه نېټه ( دويم الحاقي پروتوکول) ۴ ماده( ۲ )، ۱۳ او د نړيوالي سرې مياشتې نړيوال عرفي نړيوال بشر دوستانه قانون ، د قانون څېړنې ، اصول نمبر ۱ ، ۶، ۱۵۶ ؛ د روم منشور ، او نړيوال جينايي محکمې ۸ ماده (۲) ( c) (i) ۸(۲) د نړيوال جينايي محکمې منشور وګورئ ۸ ماده( ۲) (e) (VI) ”چې مذهب ته ځانګړې شوي ځايونو باندې قصدا بريدونه جرمي صبغه لري [......]."

[12] دويم الحاقي پروتوکول ، ۱۶ ماده ، د دې سربيره د مدني او سياسي حقونو نړيوال کنوانسيون ۱۸ ماده چې د مذهبي او فکري ازادۍ په اړه دی وګورئ.

[13] دويم الحاقي پروتوکول ماده ، ۴ (۱)

**په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو خوندیتوب:** **۷ نومبر ۲۰۱۷**

**د عبادت ځایونو، مذهبي مشرانو او عبادت کونکو په وړاندې بریدونه**

افغان حکومت د افغان وګړو د حقونو د خوندې ساتنې لومړی مکلفیت لري ، څو عبادت کونکي د برید د ویرې پرته په خوندي توګه عبادت وکړي. یوناما د حکومت لخوا د خوندي ساتنې په اړه ترسره شوي تدابیر ستایی او په دې اړه د نورو اقداماتو سپارښتنه کوي څو خلک او د عبادت ځایونه له بریدونو څخه خوندي شي.

د اربعین د مراسمو د لمانځلو د موقع په رارسیدو سره ، یوناما په جګړه کې له ښکېلو خواوو غوښتنه کوي چې تر نړیوال قانون لاندې د مکلفیت په اساس ملکي خلک او ملکي ځایونه خوندي کړي ، او په ځانګړي ډول عبادت ځایونه ، مذهبي مشران او عبادت کونکي خوندي وساتي او د دې ځایونو د خوندي موقف احترام وکړي.